# عمراني وړانګې د ټپې په هنداره کښې

دانش بېټنے، جهان عالم

**Abstract**

Tappa is the most popular genera of Pashto literature. It reflects the Cultural, Social, domestic history of Pathans and their unwritten constitution called pashtoonwali. Due to these aspects tappa has its own individuality, popularity and importance in Pashto literature. In this paper sociological aspect of Pashto tappa has been highlighted.

ژوند د تغیر نوم دے ـ کله خوږ کله تریخ ، کله ګران کله اسان ، کله نرم او کله ګرم ـ د ژوند دغه واړه کېفیات د یو قام په ادبي اثارو کښې په مختلفو شکلونو کښې سر وهي ـ پښتانۀ چې د دنیا په مخ یو زوړ او لرغونے قام یادېږي ـ د ژوند ددغه واړه ډګرونو څخه تېر شوے دے ـ د ژوند هره ګرمه او نرمه لحظه یې کتلې، لیدلې او محسوس کړې ده ـ هره ستغه او پسته لار یې وهلې ده او چې بیا یې د ژوند دغه حوادثو څخه څۀ عکس اخستے دے د هغې چاپ ددې قام په لیکلي او وئیلي دواړه قسمه ادب کښې وجود لري ـ مخکښې ددې نه چې د پښتون قام عمراني بېلګو لټونه په ټپه کښې اولټوؤ ښۀ به دا وي چې په عمرانیاتو مختصره خبره وشي ـ

عمرانیات په لغوي لحاظ سره د عربي ژبې ټکے دے چې مطلب ئې معاشرتي تړون او ټولن پوهنه ده ـ دې ته په پښتو کښې ټولن پوهنه په عربي او اردو کښې عمرانیات ، په فارسي کښې اجتماعیات ، په هندي کښې سماجیات او په انګریزي کښې ورته سوشیالوجي (Sociology) وئیلے شي . سوشیالوجي د لاطیني ژبې ټکے (Socius) او د یوناني ژبې (Logus) نه اخذ کړے شوے دے ـ د (Socius) معنٰی ده ملګرے ، دوست او رفیق ، هر کله چې د (Logus) نه (Logy) مشتق دے چې معنٰی ئې ده په ضابط طریقې سره د یو څیز تنقیدي مطالعه کول ـ

ګویا که عمرانیات هغه سائنسي علم او پوهه ده چې د کومې په واسطه د معاشرې او د

معاشرې د وګړيو تر مېنځه د هغوي د نظمي تعلق او تړون ، وده او نمو ژوره مطالعه او پلټنه کيږي ـ

د عمرانياتو يعني سوشيالوجي پحقله يونيورسل انسائيکلوپيډيا ليکي :-

Sociolgy is the Scientific study of Society. In 1838 Auguste comte coined the word to express the idea that the phenomena of social life are include within the unity of nature and are subject to inevitable natural laws. Sociology seeks to determine the result gained by the workers in several other social science. Short sociology is the scientific study of human life organized in a community.[1]

ترجمه :- سوشيالوجي ( عمرانيات ) د ټولنې سائنسي مطالعې ته وئيلے شي ـ ١٨٣٩ کښې August comte د يوې خاص نظريې يا تصور پيش کولو دپاره د سوشيالوجي لفظ استعمال کړو او دا ئې اووئيل چې د معاشرتي ژوند لا ئحه عمل د فطرت يو والي کښې دے او فطري قوانينو باندې انحصار کوي ـ سوشيالوجي ددې يقين هم کوي چې هغه مختلفو خلقو په مختلفو معاشرتي علومو کښې حاصل کړي وي ـ مختصراً دا چې سوشيالوجي د انساني ژوند هغه مطالعې ته وئيلے شي چې هغه په سماج کښې څرګندېږي ـ

هرکله چې کشاف يې داسې وضاحت کوي ـ

عمرانيات ايسے علم کا نام ہے جو اجتماعی گروہوں کی ماہيت ، تشکيل ، ارتقاء اور ان تبديليوں کا مطالعہ کرتی ہيں. جو اجتماعی گروہوں ميں کرتی ہے يا وقت آنے پر تمدنی طور پر وقوع پذير ہونگی.[2]

عمرانيات د ټولنې د اغاز ، ارتقاء او تنظيم نوم دے ـ دا يو داسې خور وور علم دے چې په معاشره کښې پيدا کېدونکي انسان د هر فعل و عمل سره کار لري ـ په دې علم کښې د انسان د ژوند د اغاز نه واخله تر دې دمه پورې بحث کيږي ـ انسان معاشره کښې څنګه وسېدل شروع کړۀ ـ د معاشرې يا ټولنې سره ددۀ سلوک څۀ او څنګه ؤ ـ ټولنه کښې د دود دستور څۀ حېثيت دے ؟ ددې اغاز څنګه وشو ـ مذهب څۀ شے ؟ دې انسان څنګه متاثره کړو ـ ابتداء کښې د انسان مذهب څۀ ؤ ـ وروستو څۀ شو ـ قانون څنګه او ولې جوړ شو ـ دا تر دې وخته چې راورسېدو نو د کومو ارتقائي مرحلو نه تېر شو او داسې نور په سلګونو سوالونه دي چې جواب يې ټولن پوهنه ( عمرانيات ) ورکوي [3]

پښتو ژبه او پښتون قام د دنیا په مخ ډېرلرغونے او زوړ تاریخ لري ـ هم دغه سوب دے چې څومره یو قام او یوه ژبه زړه وي دغه هومره به ددغې ژبې او قام تاریخ او عمراني نخښې نښانې زړې وي ـ پښتون قام چې د اسلام د ظهور نه مخکښې هر څۀ ؤ ـ خو چې کله یې په اجتماعي توګه د یو قام په حېث د خپل زوړ مذهب نه رجوع کړې ده او د اسلام په رنګ کښې رنګ شوي دي ـ نو له هغې پسه یې خپل زاړۀ اثار خوا که تحریري وو او که مادي ، هر دواړه ته مکمله شاکړې ده ـ دغه وجه ده چې زمونږ سره تحریري او شفاهي هر دواړه ادبي سندونو کښې د زر یو نیم زر کاله نه اخواه څۀ خاص مواد په لاس کښې نشته دے ـ خو بیا هم ددغه مذکوره وخت (Period) عمراني مطالعه زمونږ دا عقیده پخوي چې د پښتون قام د خپلې ژبې او ملي اثارو سره څومره پېوستون او کلک تړون درلودلے دے ـ د پښتو په اولسي ادب کښې ګڼ اصناف سخن داسې دي چې هغه ددغې قام د تېر هېر ژوند یو تت شان عکس خامخا راپه ګوته کوي ـ

په اولسي ادب کښې چاربېته ، نیمکۍ ، ټپه ، متل ، اولسي قیصۍ ، کسرونه ، اړونه او نور ډېر څۀ شامل دي ـ خو په دغه واړو توکو کښې ټپه یو داسې بشپړ او ژوندے توکے دے چې د پښتون قام د ژوند هر اړخ ، خوا که بزمي دے او که رزمي ، عشقیه او رومانوي دے او که معاشرتي او سماجي یا معاشي ، اغېزمن کړے دے ـ

ټپه د پښتو اولس د زړۀ هغه اواز دے چې یوه مصرعه یې نهۀ او دوېمه دیارلس سېلابه لري ـ ټپه په خپل مخصوص هئیت کښې په معنوي او موضوعي هر دواړه لحاظ د دنیا د بلې ژبې سره نشته دے ـ دغه تخصیص او خاصیت ټپه پښتنه کړې هم ده او امر کړې هم ـ که ټپې د خپل قام د تاریخي او تلمیحي اثارو د خوندي کولو تابیا کړې ده نو پښتون هم د خپل زړۀ په کور کښې ټپې له ځائے ورکړے دے او دې ته یې دوامي ژوند بخښلے دے ـ

ټپه په خپل لنډ تنګ وجود کښې ډېر څۀ لري او دغه ډېر څۀ د پښتون د انفرادي او اجتماعي ژوند د هر دواړه اړخه په مختلفو جهتونو په زړۀ پورې بحث لري ـ ددغې بحث ځنې ددې قام د عمراني ودې او اجتماعي یا انفرادي ژوند یو تاریخي ساز شوے دے ـ

ټپه په مختلفو سیمو کښې په مختلفو نامو یادېږي ـ خو سره ددغه اسمي اختلاف د هئیت معنوي وسعت او موضوعي فراختیا له مخه د یو وجود جدا جدا نومونه دي ـ نو هېڅ فرق او توپیر نۀ لري ـ انسان د خپل بعثت سره سم د ځینې فطري عادتونو نه مجبوره ځینې عملونه خوا که هغه ناوړې او ناخوښه دي او یا ښۀ او د سړیتوب سره علاقه لري خپل کړې ـ د مثال په ډول د خېټې د تنور سړولو دپاره بني نوع انسان ته د ډوډۍ ضرورت د ازل نه تر ابده دے او وي به ـ اوس دا په انسان اړه لري چې دے ددغه ضرورت د سر کولو له پاره د کومې لارې انتخاب کوي ـ دغه شان د کور کېږدۍ ، جامه ، پېزار ، وادۀ ، ښادي ، راشه درشه ځینې د حصول او سرته رسولو طریقې به معنونې او خوښې وي ـ هر کله چې ځینې نورې به ددغې

برعکس او ناخوشي او غندلې شوې وي ـ دا هر دواړه رخونه د انسان په انفرادي او اجتماعي دواړه دوله ژوند ژورې اغیزې ثبتوي او یوه زمانه پس چې ددې انسان د دنیا نه پرده د تاریخ یوه حصه جوړه شي نو دغه تاریخ د انساني ژوند د عمراني لوازمو یو عکس هم لري ـ

د انسان د ماضۍ سره تړلې ویناوې خوا که نثري رنګ لري او که شعري ، شعوري هڅې وي او که لا شعوري ـ د انسان د ماضۍ په هنداره د هغه د اصلي عکس صفا ځلیږي ـ ټپه چې د اولسي ادب د اهم ترینو توکو ځینې یو توکے دے ددغه واړه اسبابو امینه ده ـ د ټپې د مسلمه تاریخي حېثیت په باره کښې ږ د پښتنو ژوند ژواک ،، مصنف ښاغلے پرویش شاهین لیکي :-

> که په ژور نظر د ټپې جاج واخستے شي نو یقیناً چې ټپه پخپله پښتو ادب دے ـ ولې چې صرف پښتو ټپه مونږ د پښتنو هغه ورک او نایاب تاریخ ته رسولے شي چرته چې مونږ پخپله تاریخ او یا د نثر او نظم کتاب نۀ شي رسولے ـ زما خیال دے چې صرف او صرف ټپه د پښتو ادب اولنے پاټکے دے او پښتو ادب ددې نه وده کړې ده ـ [4]

د ټپې د دومره اهمیت له مخې مونږ په دې خبرې کښې هېڅ باک نۀ محسوسوؤ چې د پښتون وګړي د ټولنیز او نفریز هر دواړه قسمه ژوند همه جهتونه د ټپې په شکل کښې محفوظ او خوندي دي ـ اوس دا بیله خبره ده چې دغه همه جهتونه به همه پښتون وګړي ته معلوم وي او که نه ـ د مغربي تهذیبي یلغارچلو به د هغوي دغه خوندي کړے رُعب ، دبدبه ، غربت ، شهرت ، ننګ ، وفا ، حیا او داسې نور سامان لکه د خس و خشاک تر ځان سره بهولے وي ـ

ټپه د همه تهذیبي بیلګو اجتماعي نوم پاتې شوے دے ـ نو ځکه کله د لالي او کله د لیلٰی د سپېځلو نامو په استعارو د ژوند د ځینو خوږو او ځینو ناپسندو اړخونو تذکره هر وخت لري چې قاري او سامع هر دواړه ترې په دې خبره رسي چې ګني هغه د شعر په جامعه د تاریخ د ټولنیز ژوند یو اهم اړخ مطالعه کوي ـ

د مثال په توګه که ټپه د یو دود ، دستور یا عمومي رواج یادونه کوي ـ نو هغه په دومره جامع او بشپړ انداز کښې چې د لوستي نه لوستے او د ان پړه نه ان پړه کس بغېر د تعریفه او ستائنې نۀ شي پاتې کېدے لکه :

چې لو کوې ګوتې به ریبې
بابا ته وایه چې لوګري واچوینه
زما نه ښه غنم واخله
یه لیلا مۀ کړه تر غرمې پورې لوؤنه[5]

په دې ټپه کښې که يو طرف ته د پښتون وګړي وهلي معاشي حالت ته اشاره ده نو بل طرف ته د محبت د انتها او معراج هغه څوکې په ګوته کوي د کومو احساس چې صرف او صرف د مينې نه ډک زړۀ او د مئينتوب لېواله عاشق ته کېدے شي ـ

د ټپې د مطالعې په اوان يو بله خبره د لوستونکي توجه ځان پله راګرځوي او هغه دا چې پښتون تهذيب او تمدن د مختلفو اړخونو تذکره ، د پښتون وګړي ګذران چې په کومه سيمه شوے دے هلته يې د خپل ځانګړي تهذيب او تمدن څۀ نه څۀ نخښې نښانې خامخا پريښې دي ـ او دغه نخښې د اولسي ادب د صف ټپې په حواله زمونږ رهنمائي کوي ـ هر کله چې نور تاريخي اثار په بشپړه توګه ددغه عکاسۍ ځينې محروم دي ـ

مونږ ته معلومه ده چې ثقافت د کومو بنيادي عناصر ځينې وجود مومي په هغوي کښې مذهب ، ژبه ، روايات ، دودونه ، دستورونه ، لوبې ، قېصې ، تاريخي پېښې ، جامې ، کالي ، پټري ، ښکارونه ، رزمونه ، بزمونه، وادۀ ، کوژدنې او د غم ځينې ځانګړي رسمونه د يادولو وړ دي ـ

د پښتو ټپې د سرسري او ارتاؤکي مطالعې نه هم کم از کم قاري په دې نتيجه رسي چې د ټپې په چوکاټ دننه د پښتون د ماضۍ همه رخونه په څۀ نه څۀ حواله چېړلے شوي دي ـ

په مذهبي حواله د پروفېسر داور خان داؤد دا خبره د ټپې تول نور هم درنوي ـ

> د پښتون د ابتدائي ادب په نظم او نثر دواړو مذهبي رنګ خور دے ـ د سلېمان ماکو د نثر او بيټ نيکۀ د نظم نه واخلئ عن د رحمان بابا او خوشحال خان خټک تر دوره پورې مذهب اوتصوف د هرې نثري اوعري فنپارې بنياد دے ـ ـ ـ ـ ـ پښتانۀ د اسلام سره بې کچه مينه لري ځکه يې لا تر اوسه په شعر و ادب مذهبي رنګ خور دے ـ موجوده جديد دور کښې د دومره سائنسي او ذهني ارتقاء باوجود په پښتو ادب کښې نعتونه ، منقبتونه او حمد و ثنا ليکلے کيږي ـ ټپو هم دا موضوعات خپل کړي دي او د حمد او نعتونو خوشبويي يې په ټوله پښتونخوا کښې خورې کړې دي [6]

پښتو ټپې دغه مذهبي بيلګې ، چې پښتون کلتور او تهذيب بنيادي تيږه ده داسې خوندي کړي دي ـ

> پروردګار غني بادشاه دے
> مچ او انسان له روزي يو شان ورکوينه

او يا دا چې :-

> په شرعه ټينګ د پاک حضرت شه
> په ورځ د حشر شفاعت به دې کوينه

د پښتون ثقافت ځینې ځانګړي صفات لکه ننواتې ، جرګه ، مرکه ، پیغور و مېلمستیا ، ضد ، ځېل ، هوډ ، پښتو ، تیره او داسې نور هغه توکي دي چې ټپې په کُلي ډول مذکور کړي دي او پښتون د ټولنیز ژوند دغه اهم ګوټ ترې هم پټ نهٔ دے پاتې شوے ـ دلته په یو څو مثالونو اکتفا کوم ـ

سر مې سرتور قرآن په غېږ کښې
خوره جانانه ننواتې له درځمه[7]

او یا دا چې :-

میم مرور جانان مې لاړو
رر نن ،، ننواتې له ورځم که رضا شینه

دغه شان د جرګې په حقله دا ټپې څومره معنې خیزې دي چې :-

دا به زما نه پوره نهٔ شي
چې هر ساعت دې په جرګو پخلا کوؤمه

او یا دا چې :-

راځئ چې ټولې پرې جرګه شو
د مرور لالي مو وکړۀ منتونه

لنډه دا چې ټپه د پښتو اولسي ادب هغه منفرد او یوائینے صنف دے چې د پښتون قام د عمراني زیست روزګار او نشېب و فراز یې د هرې زاویې نه ځیرلے او ذکر کړے دے او هغه خبره بیا تکراروم چې که څوک د همه ټپو مطالعه وکړي نو هغه د پښتون قام او اولس د یو بې ترتیبه خو قوي او مدلل تاریخ او تهذیب ته په اسانه ورسیږي ـ د پښتو ټپې د اهمیت ، تنوع ، حسن او تکمیل په باره کښې به دومره قدرې ووایو چې :

ستا د ښائست د ګلونه ډېر دي
جولی مې تنګه زۀ به کوم کوم ټولومه

# حوالې


[١] New Universal Encyclopedia Volume ,9 Amalgamated press London Page 7633

[٢] صديقي ابوالاعجاز حفيظ، کشاف تنقيدي اصطلاحات، لاهور، مقتدره قومي زبان، ١٩٨٥ء، مخ ١٢٦

[٣] دانش بيټنې نور محمد ډاکټر، رر د پښتو ټپې عمراني مطالعه ،، د پي ايچ ډي تحقيقي مقاله، ناچاپ، ٢٠١٠ء، مخ ١٤

[٤] شاهين محمد پرويش، د پښتنو ژوند ژواک، سوات، شعيب سنز منګوره، جون ١٩٨٩ء، مخ ١٥٧

[٥] جهان عالم، پښتو ټپه او صفتونه، د ايم فل تحقيقي مقاله ناچاپ، علامه اقبال اوپن يونيورسټي، اسلام آباد، ٢٠٠٧ء، مخ ١٠١

[٦] داؤد، داور خان، پښتو ټپه، س ن، مخونه ٧٦، ٧٧

[٧] سلمٰی شاهين رر روهي سندرې ،، اول جلد پښتو اکېډيمي، پېښور پوهنتون، ١٩٨٤ء، مخ ٤٧٥